دغه رنگ مو تاسې غوره امت گرځولي یاست چې پر خلکو گواهان اوسئ

اونیزه شهادت

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارگان

شهادت دویم کال، ۸۲ مه گڼه، چهار شنبه ۱۳۸۹ هـ ل د لړم ۱۹ مه د۱۴۳۱ هـ ق د ذوالحجة ۳ مه د ۲۰۱۰ م د نوامبر ۱۰ مه

الهي لارښووني

ای مؤمنانو! رکوع او سجده وکړئ، د خپل رب عبادت وکړئ. نیکیو ته ملا وتړئ. تر څو مو خلاصون په برخه شي. د الله په لیار کې داسې حق جهاد وکړئ چې دهغه سره ښایي. هغه تاسو غوره کړی یئ او په دین کې یې په تاسو کوم سختوالې او تنگي نه ده ټاکلې. د خپل پلار ابراهیم پر ملت ټینگ ودریږئ او الله پاک پخوا هم تاسې مسلمان نومولي واست او په دې قرآن کې هم ستاسې همدا نوم دی. (سورة الحج : ۷٦ - ۸۸)

نبوي ارشاد

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي:

یو مسلمان د بل مسلمان ورور دی، نه دې پخپله پر هغه ظلم کوي او نه دې بل ظالم ته سپاري. کوم مسلمان چې د خپل مسلمان ورور اړتیاوې پوره کوي نو الله تعالی دهغه اړتیاوې پوره کوي. کوم مسلمان چې د خپل مسلمان ورور تکلیف لرې کوي نو الله تعالی د قیامت په ورځ دهغه تکلیف لرې کوي. کوم مسلمان چې د خپل مسلمان ورور پر عیب پرده اچوي الله تعالی د قیامت په ورځ دهغه پر عیبونو پرده اچوي. (بخاري)

نقشهء سپردن مسوولیت های امنیتی به نیروهای افغان ترتیب شده است

PROPERTY OF ACKU

کابل، رسانه ها:
جنرال دیوید پیترویس قوماندان عمومی نیرو های امریکایی و ناتو در افغانستان نقشهء رنگه ای را ترتیب کرده است تا در اجلاس ناتو که به تاریخ نزدهم نومبر در لیزبون برگزار می شود، در باره آن معلومات بدهد.
در این نقشه برخی از محلات به رنگ سبز

بقیه در صفحه ۴

وحید عمر:

پاکستان په سیمه کې د ثبات په راوستو کې سمه مرسته نه کوي

کابل، رسنۍ:
افغان حکومت یو ځل بیا پر گاونډي هیواد پاکستان انتقاد وکړ، چې په افغانستان کې د سولې او پخلاینې په خبرو کې خپل رول په سمه توگه نه لوبوي.
په داسې حال کې چې افغان حکومت او نړیوالې ټولنې په افغانستان کې د سولې او پخلاینې لپاره خپلې هلې ځلې گړندۍ کړي، افغان حکومت وایي، چې پاکستان د افغانستان د سولې په ټینگښت کې لازمه مرسته نه ده کړې.
تر دې مخکې د افغانستان د سولې عالي شورا له نړیوالې ټولنې او گاونډیو هیوادونو څخه غوښتي وو، چې د سولې په خبرو کې ورسره مرسته وکړي.
د افغان ولسمشر حامد کرزي ویاند وحید عمر د دوشنبې په ورځ په کابل کې خبریالانو ته وویل، چې پاکستان هم د افغانستان او هم د سیمې د سولې په راوستو کې مهم رول لري، خو تر اوسه یې هغه رول نه دی لوبولی.
"پاکستان هم په افغانستان کې، هم په منطقه کې او هم په خپله پاکستان کې د سولې په راوستو کې ډېر موثر رول لوبولی شي. خو له بده مرغه تراوسه یې هغه موثر رول نه دی لوبولی او له بده مرغه هلته ځینې خاصې کړۍ موجودې دي، نه یواځې دا چې د سبات په راوستو کې مرسته نه کوي، بلکې ځینې یې بې ثباتی ته لمن وهي او یا هم د غیر مشروع او

ترویرستي اعمالو څخه حمایت کوي".
ښاغلي عمر دا هم وویل، چې که پاکستان د

پاتی ٤ مخ

اوباما په هند کې پر پاکستان نیوکه وکړه

تاند ویب پاڼه:
د امریکا د متحد ایالاتو ولسمشر بارک اوباما له هند څخه د خپلې لیدنې په دوهمه ورځ پر پاکستان نیوکې وکړې.
ده وویل چې اسلام اباد د بنسټ پالنې پر وړاندې ورو پرمختگ کړی دی. د امریکا ولسمشر زیاته کړه چې اسلام اباد هغسې پرمختگ په دې برخه کې نه دی کړی چې موږ یې هیله کوو.
د امریکا ولسمشر هند وهڅاوه چې په دې برخه کې له پاکستان سره مرسته وکړي. اوباما څرگنده کړه چې پاکستان په خپله خاوره کې د افراطیانو پرضد په مبارزه کې ډیر سست پرمخ روان دی.
د امریکا ولسمشر چې نن یکشنبې(نومبر ۷) په ممبی کې زده کوونکو ته وینا کوله همداراز یې وویل چې پاکستان په خپله هم دا درک کړې ده چې له افراطیانو سره په مبارزه کې ډیرې ستونزې لري او هڅه یې کړې ده چې په دې برخه کې پرمختگ وکړي خو بیا هم دا هڅې زموږ له هیلو سره سمې نه دي.
اوباما وویل، څومره پاکستانیان چې د پاکستان

پاتی ٤ مخ

افغانستان له سعودي وغوښتل چې د منځگړتوب رول ته دوام ورکړي

مصر، رسنۍ:
د افغانستان د بهرنیو چارو وزیر زلمي رسول پرون په مصر کې له سعودي عربستانه وغوښتل چې په افغانستان کې د سولې لپاره د منځگړتوب رول ته دوام ورکړي.
ده هیله څرگنده کړه چې سعودي عربستان به د افغانستان د سولې د عالي شورا له پرېکړې او غوښتنې سره سم له طالبانوسره د منځگړتوب هلوځلو ته دوام ورکړي.
دا په داسې حال کې ده چې تر دې یوه ورځ وړاندې د سعودي عربستان رسنیو د دغه هیواد د بهرنیوچارو وزیر له قوله وویل چې سعودي عربستان به تر هغو د افغانستان د حکومت او طالبانو ترمنځ د پخلاینې په هلوځلو کې شریک نه شي چې طالبانو له القاعده شبکې سره اړیکې شلولې نه وي.
تېره میاشت د افغانستان د سولې عالي شورا له سعودي عربستانه وغوښتل چې د افغانستان د

پاتی ٤ مخ

چالش های عمدهٔ پروسه صلح

صفحه دوم

دیموکراسي، د ویټو د پلویانو مذهب!

دریېم مخ

لاهم ایران داعدام شویو افغانانو په اړه چوپه خوله پاتی دي!

کابل، رسانه ها:
دافغانستان دبهرنیو چارو وزارت وایي: ایراني چارواکو تر اوسه په دغه هیواد کې داعدام شویو افغانانو په اړه مالومات نه دی ورکړي. دبهرنیو چارو وزارت دقونسلي چارو مرستیال رئیس محمد امان امین چې نن په دی اړه دمالوماتو دورکړی په موخه مشرانو جرگې ته بلل شوي ؤویلي: تر اوسه په ایران کې داعدام شویو افغانانو کره شمیرنه دی څرگنداو ایراني چارواکي آن دهغوی جسدونه هم دهغوی کورنیو ته نه سپاری.
درپوټونو پر بنسټ، دروان هجری لمریز کال په اوږدو کې په ایران کې په لسگونو افغان کډوالو ته دبېلا بیلو جرمونو په تور داعدام سزا اورول شوي او په زرگونو نور په دغه هیواد کې بندیان دي. په همدي حال کې دعدلیې وزارت معین محمدقاسم هاشمزی نن دمشرانو جرگې د نړیوالو اړیکو په کمیسیون کې ویلي: په ایران کې دافغان بندیانو کره شمیر تر اوسه نه دی څرگند . دا په داسې حال کې ده چې په ایران کې یو شمیر افغان کډوال، تل ددغه هیواد دحکومتي کارکوونکو له خواله ډول ډول تاوتریخوالو سره مخ، خوایراني چارواکو د دغه شان کړنو تر سره کیدنه ردکړي.

د انتخاباتو د څېلواک کمیسیون ویاند نور محمد نور:

لوی څارنوالی په انتخاباتي مسایلو کې د مداخلې حق نه لري

کابل، رسنۍ:
په داسې حال کې چې د افغانستان لویې څارنوالی د انتخاباتو څېلواک کمیسیون ته اته څلویښت ساعته وخت ورکړی چې، د دوي د تورنو کارکوونکو په هکله دې د څېړنو اجازه ورکړي، خو د دغه کمیسیون چارواکي وایي چې، دوي ته په دې اړه کوم رسمي سند نه دی ورسپارل شوی .
د افغانستان د انتخاباتو د څېلواک کمیسیون ویاند نورمحمدنور ازادي راډیو ته د ده په څرگندونو کې، دې ټکي ته هم اشاره وکړه، چې تر هغې چې د دوي په روانو چارو کې کومه جرمي قضیه نه وي پېښه شوې دوي د هیڅ یوې اداري په وړاندې د ځواب ویلو مسئولیت نه لري ښاغلي نور زیاته کړه:
(تر کومه ځایه چې د دوي مکتوبونه موږ ته را رسېدلي موږ ورته ځواب ورکړی دی، زموږ دریځ روښانه دی په انتخاباتی مسایلو کې لویه څارنوالی نه شي کولای چې مداخله وکړي خو که کومه پېښه جرمي وي، بیا نو کولای شي مداخله وکړي او موږهم ورسره همکاري کوو.)
خود افغانستان لویه څارنوالی وایي چې د انتخاباتو څېلواک کمیسیون دوي ته هغه لازمې اسانیتاوې نه دي برابرې کړي چې،

پاتی ٤ مخ

امریکا په اسیا کې نظامي شتون غواړي

امریکا، رسنۍ:
د امریکا د دفاع وزیر رابرټ گېټس ویلي، چې امریکا په اسیا کې د خپلو پوځیانو د شتون په لټه کې ده .
نوموړي دغه څرگندونې په استرالیا کې د امنیتي مسایلو په اړه د مذاکراتو پر مهال وکړې او زیاته یې کړه، چې د دواړو هېوادونو اړیکې په جنوبي اسیا کې د امریکا د رول په غښتلي کولو کې مرسته کولای شي .
گېټس، زیاته کړه، چې په سیمه کې د امریکا هدف د چین د لا مخ په ودې اغېز مخه نیول نه دی .
نوموړي وویل، چې امریکا په سیمه کې د نورو پوځي اډو جوړولو اراده نه لري، خو ده د مزایلو د دفاعي سیستم او فضایي اندېښنو په څېر موضوعاتو کې د ډېرې همکارۍ هیله څرگنده کړه .
په سیمه کې اوس وخت داسې اوازې خورې شوي، چې

پاتی ٤ مخ

سرمقاله: د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

د بهرنيانو مداخلې ته چا لاره خلاصه کړې ده؟!

ډېر د تاسف ځای دی چې افغان ولس د خپل تاريخ په دې پړاو کې له خطرناکو کړاوونو او ډول ډول اندېښنو سره مخامخ دی، هېواد يې عملاً د پرديو پوځونو په ولکه کې دی، په دې هېواد کې چې دهغوی هر څه زړه غواړي په پراخ مټ يې کولې شي، هيڅوک داسې نشته چې دهغوی مخه ونيسي او يا ترې پوښتنه وکړي چې دا دې په کوم قانون او معيار ترسره کړ؟ تر ننه زرگونه بې گناه افغانان د دوی دلاسه شهيدان او ټپيان شويدي، زرگونه وگړي د خپلو کورونو څخه بې کوره او په هېواد کې دننه د شنه آسمان لاندې بې کوره او بې اوره له کړاوونو نه ډک ژوند تيروي بهرني پوځيان چې هر چېرته لاړ شي هلته د بې گناه وگړو د وژلو او دهغوی د کوډلو له ورانولو پرته بل هيڅ گټه نه رسوي. له ترهگرو څخه د سيمو د پاکولو په بهانه چې کوم ترهگري دوی پخپله په لاره اچولې ځايي خلک دهغه په لېدو دهغو ترهگرو ارمان کوي چې دوی له هغوی څخه د سيمې د پاکولو لپاره عملياتو ته تللي دي. ددوی دلاسه حالات تر دې کچه خراب شوي چې تقريباً د هر چا له سترگو نه خوب تښتيدلې دی او هر څوک د ناامني احساس کوي، په خپل فعلي او راتلونکی ژوند په اړه اندېښمن دي او هره شيبه همدا فکر کوي چې څه به ورسره کيږي؟

ددغو ټولو بدمرغيو او ناخوالو پړه څوک د هېواد په مشرانو اچوي او څوک هم په بهرنيو پوځيانو او گاونډيو هېوادونو، په دې کې هيڅ شک نشته چې درې واړه په دې کې لوی لاس لري او هر يو پخپل ځای پړ دي، خو که له واقعيت نه سترگې پټې نه کړی شي نو د ملامتي او پړتيا گوته بايد لومړی د افغانستان مشرانو ته ونيول شي څکه چې هغوی ترننه د خپل هېواد او ولس په وړاندې دهغو مسؤوليتونو په ترسره کولو کې متين گامونه اوچت نه کړل چې اصلاً ددوی وظيفه وه، د جهاد له کلونو نيولې د افغانستان تر آزادي او تر دې دمه پورې د هېواد په ټولو قضاياو کې داسې کوم عملي يووالي او همغږي ونه ښود چې د هېواد استحکام او ملي وحدت لپاره د ملا د تير حيثيت لري. پرون هم په جلا جلا ډلو ټپلو او ضدو نقيض دريځونو ويشل شوي وو، نن هم جلا جلا دريځونه او فکرونه لري، خپل ولس يې ټوټې ټوټې کړې او عملاً د يو بل پرخلاف د دښمنۍ سنگرونه نيولي دي. د هېواد غم ځپلي اولس د اور او باروتو په لمبو کې سوځيږي، د يوې نوري ډوډۍ لپاره در په در او خاورې په سر گرځي، له بې امنۍ او فساد نه سرونه ټکوي، کورونه او مال حال يې تباه کيږي، زامن يې وژل کيږي او خويندې ميندې يې بې عفته کيږي مگر د مشرانو په رگونو کې د رحم او مسؤوليت احساس نه راژوندي کيږي. په هېواد کې دننه او له هېواده دباندې آسمان څکي، پلازې، هوټلونه او مجلل کورونه لري، قيمتي موټرې او نوکران، چاکران لري، بې حسابه پيسې او نور سهولتونه لري، لوی لوی تجارتونه او کار و بارونه لري له ډالرو او ايرو سره لوبې کوي ان چې د وړو ماشومانو جيبونه يې هم له ډالرو ډک دي، څرگنده خبره ده چې پخپلو ذاتي گټو کې ډوب مگر د ولس او خاورې له مشکلاتو نه ناخبره مشران خامخا له تر هر چا زيات ملامت او مسؤول دي.

که د هېواد مشران د علم او پوهې باوجود د بې اتفاقۍ په لاره روان وي، د نژاد پالنې او سمت پالنې پر بنسټ سياست کوي، د ډالرو د ترلاسه کولو په سيالي کې د هېواد او ولس غم يې له زړونه ويستلې وي، په دوبی، اروپا او امريکا کې د کورونو د جوړولو په مسابقه لاس پورې کړې وي نو د هغوی تابعين څنگه کولې شي چې دهغوی په خلاف گامونه اوچت کړي.

عربي مقوله ده چې ولسونه د خپلو مشرانو پر نظام او دين روانيږي. مشران چې هره لاره خپله کړي ولس هم همغه لاره تعقيبوي. زموږ مشرانو په افغانستان کې له لومړی ورځې نه د بې اتفاقۍ او نژاد پالنې تخم کرلې دی، خپلې خپلې ډلې يې ضد، عناد او توکم پالنې په روحيه روزلې دي. د هغوی په زړونو کې د دښمنۍ او اختلاف اورونه يې بل کړي دي چې اوس هم عملاً د يو بل د محوه کولو په لټه کې دي اوس نو راځئ پخپله فکر وکړو چې کله د هېواد مشران پخپله هم يو دريځ او يو پلان ونه لرئ، يو لاس او يو موټې نه وي، او ولس يې هم پخپلو منځونو کې په ډلو ټپلو ويشلې او د يو بل په خلاف يې د جنگ په سنگرونو کې ودرولې وي نو داسې ملت څنگه په دې توانيدلې شي چې خپل هېواد ته له دې خطرناکو جنجالونو څخه نجات ورکړي؟ !

يواځې يو موټې قيادت او يو موټې ولس کولې شي چې د داسې غټو غټو چيلنجونو مقابله وکړي او له هر ډول خطرونو څخه خپل هېواد وژغوري. لکه څنگه چې د افغانستان خاوره او ولس د مشرانو د بې اتفاقۍ او بې مسؤوليتې په نتيجه کې له دغه خطرناک حالت سره مخامخ شوې او د همدوی د غفلت او بې حسي له کبله د افغانانو عزت، غيرت او استقلال ته زيان رسيدلی دی همداسې له دينه د وتلو يواځينی چانس هم په دې کې رانغښتل شوې چې مشران خپل هغه خلا او تشه ډکه کړي چې دومره ستر تاوان ته يې لاره پرانستې ده.

له نړۍ او د گاونډيو هېوادو څخه دا تمه او توقع کول چې هر څه دې هغوی موږ ته جوړ کړي له حماقت پرته بل څه نه دي.

هغه څوک چې خپل وران کور پخپله نه جوړوي او عملاً د لا ورانولو لپاره يې ملا تړلې وي بل څوک دهغه په جوړولو کې څنگه مرسته کولې شي؟ په انساني تاريخ کې هر چا خپلې گټې پاللي دي په ځانگړی ډول شلم قرن خو د مادياتو دترلاسه کولو قرن دی، نو څکه پردي هېوادونه که هغوی گاونډيان دي يا لېرې هېوادونه، هغوی صرف او صرف د خپلو گټو دترلاسه کولو لپاره له افغانستان سره مينه لري نه د افغانانو له گټو سره، که بالفرض هغوی افغانستان آباد هم کړي نو زموږ د آزادۍ په قيمت به دا کار ترسره کوي، له موږ نه به واک او اختيار اخلي او هر څه به پخپل لاس کې نيسي څکه چې هغوی دا هر څه د خپلو گټو لپاره کوي او دهغوی دا گټې هله تأمينيږي چې زموږ پکې واک او اختيار نه وي.

موږ اصلاً په دوه کښتيو کې پښې اېښې دي، يوه لورې دا غواړو چې پردي هېوادونه دې زموږ د افغانستان ټول مات، گوډ آباد کړي او بل لورې دا هم غواړو چې زموږ واک او اختيار دې ختم نه کړی شي، بلکې دا هر څه دی د الله د رضا لپاره وشي. د پښتو متل دی چې ما د الله لپاره يار ليدلی نه دی، يا به په دې صورت کې د بل چا غلامي ته سر ټيټوو او له خپلواکی نه به لاس وينځو او يا به هم د نورو ولسونو او قيادتونو په څېر د خپلې خاورې او ولس د خدمت او پرمختگ لپاره د همت ملا تړو.

هر چاته د لمر په څېر ښکاره ده چې د افغانستان مطلق اکثريت د غلامي له ژوند سره

پاتې ۴ مخ

چالش های عمده پروسه صلح

اعزامی

برگزاری جرگهٔ مشورتی صلح به تاریخ ۱۲ جوزا و به دنبال آن تاسیس شورای عالی صلح در برج سنبله سال روان به ریاست برهان الدین ربانی، مهمترین گام عملی ای می باشد که دولت در جهت تامین صلح و پایان بخشیدن بحران در قبال مخالفان برداشته است، اما با توجه به شرایط کنونی چالش های عمدهٔ ذیل فرراه روند صلح وجود دارند:

* اکثریت اعضای شورای عالی صلح را همان رهبران و یا فعالین احزاب جهادی سابق تشکیل می دهد که خود شان در درگیری های سه دهه قبل دخیل بودند و فعلاً نیز با مخالفین دولت میانهٔ خوب ندارند.

* عدم هماهنگی بین بیش ستراتیژی جنگی نیروهای خارجی و ستراتیژی اصلاحی دولت افغانستان، چنانچه همین اکنون بجای اعلان متارکهٔ جنگ تشدید گردیده است.

* عدم هماهنگی با دول همسایه که نقش اساسی را در قضایا کشور ما دارند.

* وضع پیش شرط های غیر عملی و متفاوت هر دو طرف که به هیچ صورت عملیه خروج را بسوی کامیابی نمی برد.

توجه عمیق در ترکیب شورای عالی صلح، رمز پیروزی این شورا به شمار میرود، مصلح کسی شده میتواند که در گذشته و حال در هر پست و مقامی که قرار داشته، عامل و محرک جنگ و نفاق نبوده و به عنوان یک عنصر خیرخواه و بی طرف که جز برای کسب رضای خدا و مصالح علیای ملت، به چیزی دیگر نیستند ولی متأسفانه در ترکیب شورای صلح کسانی دیده می شوند که به این خطاب متصف نمی باشند. درین شکی نیست که در ترکیب شورای صلح، دولت با درنظرداشت، مصالح ملی، قومی، گروهی، منطقوی و مذهبی عمل کرده و یک تشکیل همه جانبه را که ممثل وحدت ملی افغان هاست، پایه گذاری نموده است، ولی پروسه صلح جریان دو طرفه ای است که دست اندر کاران آن بایست به موافقه هر دو طرف قضیه تعیین گردند یا بعباره دیگر پیشبرد ماموریت اصلاح فی مابین دو طرف نزاع، کار متصدیان و فعالان دو طرف قضیه نبوده و این مهم را باید عناصر مصلح، خیرخواه، بی طرف و فارغ از دغدغه های سیاسی تعقیب نمایند آن نیز مختصر بوده و حد اکثر از ۱۰ الی ۱۵ نفر تجاوز نکند.

دولت پاکستان که در دوره جهاد و بعدها در دوره طالبان طراح اصلی برنامه ها و حامی مخالفان دولت های وقت به شمار می رفت، پس از سقوط ادارهٔ طالبان بنابر فشار نیروهای ائتلاف بین المللی به رهبری امریکا، ظاهراً در هماهنگی با ائتلاف، با اجرای یک سری همکاری ها در سقوط رژیم طالبان سهم گرفت، ولی پشت پرده کما فی السابق باز هم در نقش وارث و پختیبان مخالفان دولت، به جامعه بین المللی و دولت افغانستان آشکار گوشزد می نماید که هیچ صلح و مذاکره ای بدون کمک پاکستان به موفقیت منابر نمی شود.

صدراعظم پاکستان (یوسف رضا گیلانی) چند روز قبل با صراحت اعلان نمود که پاکستان در قضیه افغانستان، بخشی از راه حل است نه بخشی از معضل؛ پاکستان در گذشته نیز پیشنهاداتی برای تصریح روند مذاکره با طالبان، ارایهٔ داده بود، اما چنین گفته میشود که جانب افغانستان نسبت به نیات پاکستان مشکوک است. وزیر خارجه پاکستان (محمود قریشی) نیز ضمن یک کنفرانس مطبوعاتی در بروکسل باری دیگر بر نقش کشورش در تأمین صلح افغانستان تاکید کرد و به بهانهٔ اینکه اسلام آباد آماده کمک به پروسهٔ صلح افغانستان است، گفت: بدون کمک پاکستان، تلاش های دولت افغانستان برای برقراری صلح با مخالفان به ناکامی مواجه خواهد شد !

همچنان انعطاف ناپذیری جامعه بین المللی بالخصوص نیروهای آیساف و ناتو از مواضع قبلی شان و عدم هماهنگی آنان با پالیسی صلح آمیز دولت افغان، معضل دیگری است که راه های حل مسالمت آمیز قضیه را با بن بست مواجه می کند. اخیراً سخنگوی نیروهای ناتو گفت: که پروسه مصالحه مربوط می شود به دولت و مخالفین آن؛ ولی نیروهای ناتو ماموریت دارند تا وقت ضرورت به جنگ علیه مخالفان دولت ادامه بدهند مدعه ضرورت به زعم ناتو تا زمانی است که مخالفین دست از خشونت و جنگ بردارند (تسلیم شوند)، قانون اساسی را بپذیرند، با گروه القاعده قطع علاقه نمایند و بالاخره از دست آوردهای دولت و جامعه بین المللی در ایجاد تحولات در راستای تأمین حقوق بشر و حقوق زن حمایت نمایند.

عنوان کردن این پیشنهادات از طرف سخنگوی نیروهای خارجی بدون هماهنگی با مقامات دولت افغانستان، خصوصاً شورای جدید التشکیل صلح، مشکلاتی را سر راه مذاکره و آشتی بوجود می آورد این گونه موضعگیری ها، موقف و اتوریته دولت را نزد مخالفین زیر سوال می برد و درین صورت مخالفان ادعا می کنند که اگر تصمیم گیرندهٔ اصلی در قضیه نیروهای خارجی باشند، پس دولت با چه مجوزی ندای صلح را بلند کرده و با تشکیل شورای صلح، وقت مصلحین و مخالفان را به هدر می دهد؟

همچنان پیش شرط های غیر محملی و سنگین هر دو طرف که در گذشته مانع بزرگ پیاده شدن پروسه صلح بود، اگر اکنون نیز هر دو طرف در مورد پیش شرط های شان تجدید نظر نکنند و باز هم روی همان شرایط غیر عملی و آشتی ناپذیر تاکید کنند، نه مذاکراتی صورت می گیرد و نه توقع صلحی می رود.

مهمترین ماموریت شورای صلح اینست که جامعه بین المللی و دولت را قناعت بدهد که بخاطر پیاده شدن پروسهٔ صلح نقشهٔ تشدید عملیات جنگ را متوقف ساخته و اعلام آتش بس (متارکه) نمایند و در قدم دوم از مطرح کردن پیش شرط های غیر عملی گذشته منصرف شده و هر دو طرف یکدیگر را درک نموده، از تنازل کار بگیرند و با روحیهٔ تحمل و همدیگر پذیری، از یک قسمت خواست های خود گذشت کنند و درعوض یک قسمت از شرایط طرف مقابل را بپذیرند تا به این ترتیب به یک راه حل میانه ومورد قبول همه اطراف به توافق برسند.

جلب حمایت جامعه جهانی خصوصاً کشورهای که در ترتیب آیساف و ناتو در افغانستان نیرو دارند و کشورهای منطقه بالخصوص پاکستان، ایران، هند، چین، عربستان و ... که نفوذ شان در میان مخالفان دولت، مسجل می باشد، از جمله مواردی است که بدون آن پروسهٔ صلح به جایی نمی رسد، اگر دولت خواسته باشد که شورای عالی صلح در ماموریتش سریع عمل نموده و موفق باشد، تفاهم قبلی با ائتلاف بین المللی و در رأس ایالات متحده امریکا و همچنان کشورهای همسایه یک امر ضروری می باشد و پس از کسب حمایت این دو طرف خارجی، شورای عالی صلح می تواند که پروسهٔ مصالحه با مخالفان دولت را با تشکیل یک هیئت اصلاحی مختصر، مختلط و قابل توجه به هر دو طرف به پیش ببرد.

ډیموکراسي، د ویټو د پلویانو مذهب!

استاد محمد زمان مزمل

تر هر څه د مخه باید دا ومنو چې ډیموکراسي یوه اروپايي پدیده ده چې په اسلامي ځینو هیوادونو کې له بهر نه چلول کیږي خو نه چلیږي.

ډېر افغانان چې د هیواد ګډوډیو او یا هم افغانستان ته د امریکا په راتګ کې بې نوري او نوې ګټې خونډي شوي دي، هغوی په افغانستان کې د امریکا تجاوز او د وینو تویولو نوې لوبې ته په دوه لاسه ګډیږي، د نورو د دوکه کولو په خاطر یا هم د ځان د دوکه کولو په خاطر وایي چې افغانستان ته امریکا د نړۍ دغه لوی هیواد د امنیت او دموکراسی په خاطر راغلی تر څو دا هیواد خوندي کړي.

امنیت خو څرګند دی چې هره ورځ د شوروي د تیر تجاوز په اندازه په کې د وژنو او ورانیو باج اخلي، ولې دموکراسي دا نو هغه څه ده چې تر اوسه پورې ډیرې یې په نوم غایبانه مین دي اودهمدې روان جنګ په عروج کې د خپلې خورنې له واده نه هم په زیاته او توده جذبه ورته ګډیږي،په تیره هغه ځوانان چې داسې له دې مخکې د نورو تیرو جهتونو له خوا په همدې جذبه استخدامیدل او د افراط پر کرښه یې افغانستان په داخلي جګړو کې تود ساتلی و، د هغوی ډیری نن په دې ډالري دموکراسی کې او بیا د خپلو هیوادوالو د مرګ او وژنې په قیمت د دموکراسی لپاره تر امریکایي ځوانانو زیات اتڼونه کوي، فکر کوي دموکراسي د نړۍ یو مقبول نظام، امریکایی امپریالیزم هغوی ته مفت سوغات کړی دی، او دا به راتلونکی افغانستان د ټولو ګډوډیو او بې عدالتیو نه وژغوري.

که څه هم په ظاهر کې د امریکا غوغایي اوضاع د دموکراسی په عنوان د تیرو غلو د ګډوډیو په مقایسه د بیان د آزادی په ځینو برخو کې تر هغوی د هیواد خلکو ته دیو تنفس خوندي ماحول ورکړی دی، ولې په یوژور تحلیل کې شته اوضاع اوبیا دلسو کلونو په تیریدو ښیي چې هیواد ته په زور میلمه راغلی امپریالیزم د تیر شوروي د هغه عامیانه سوسیالیزم یاکمونیزم په مقایسه هم په بې عدالتیو کې اود پرګنو په وژنه او توهین کې تر هغوی نه داچې مخکې دي ،بلکې ډیر افغانان پروني مظالم په کې تردې ننیو مظالمو سپک او قابل تحمل بولي.

په دې رابطه د خندا خبره دا ده چې په دې هیواد کې د کمونیزم پروني دوآتشه او اوریکي پلویان کله کله د امریکا د دموکراسی او عدالت بره وایي.

په افغانانو کې یو سیاسي دود دی چې هغوی یا ډیر افغانان همیشه د یو نوي حالت یا نظام ته له ورایه تاویږي پرته لدې چې هغه تجربه کړي یا دهغه په هکله سهي معلومات لاس ته راوړي، هغه په پټو سترګو تاییدوي او د هر مخالف شعار او دریځ سره دښمني کوي.

دا خامه تجربه د خلقي اوپرچمي ملګرو په نظام کې، بیاتش په نامه د مجاهدینو په نظام کې او اوس د کرزي په اوږو د امریکا لخوا بارشوي نظام کې هم هماغسې په خامۍ لا روانه ده.

نه پوهیږم افغانان پای د دې دریو تجربو شاته،ولې د دغو تجربو نه په سطحي ډول تیر شول، اوهغوی په کې خپل راتلونکې ته دیو ژورتابه په خوا د راګرځیدو یو ژوندی درس وانه خیست، په تیره هغه لوبغاړي مشران چې په تیرو نږدې کلونو کې یې د خپل هیواد چانسونه او هر څه په خپله د پردیو لپاره او یا هم د خپلو بې فکریوله لاسه برباد کړل او اوس هغوی بیا او د یوې بلې پدیدې دموکراسی لپاره د ډالرو په خاطر ترانې جوړوي او ځان او ملت د دریم ځل لپاره په هغو طرحو او سیاستونو باندې باوري کوي چې غوڅ اکثریت ورسره په جګړه کې روان دی، یا یې نه مني، منتها دا د تشې لوبې یاران هر څه د یوې قوي امریکا په هیبت او حضور کې ښه او ممکن ویني.

د ډیموکراسي پیژندنه:

په دې اړه باید انسان لږ ژور له سره فکر وکړي او دموکراسي د څو اړخونو له مخې ژوره مطالعه کړي:

اول: دموکراسي په لویدیځ کې د یوې پدیدې په توګه

دوهم: په شرق او ختیځ کې د یو وارد او تپل شوي تقلید په توګه

دریم: په غرب او شرق کې د دموکراسی د تطبیق د پایلو تفاوت

اروپایي هیوادونه د مسیحیت او پاپ د تسلط په دوران کې په داخل او بهر کې د هغه چا د مذهبي سیستم په ګرفت اوپنجو کې و چې هم په کې د علمي پرمختګ چانسونه کنګل و او هم همدا روحیه د هغو مذهبي جګړو باعث شوی و چې اروپا یې په ۱۴مو او ۱۵مو پیړیو کې په خپلو کې ښه وجنګوله.

هغه مهال چې د صلیبي جګړو په لړ کې او بیا په هسپانیه اواشبیلیې کې د مسلمانانو په منځ کې د علمي نهضت او آزادی ماحول اروپایان په خپلو هیوادونو کې ورته اوضاعو ته وهڅول او هغوی په کې د رنسانس د علمي نهضت پړاو پیل کړ، او بیا دې پړاو هغه په ۱۷ مه او ۱۸مه پیړۍ کې د مذهبي پاپانو له یو طرفه اوجامد تسلط نه د خلاصون په هیله په فرانسه کې او بیا نوره ټوله اروپا کې تکرار شویو انقلابونو وهڅول، اروپا د منحرف مسیحیت نه ځان وژغوره ،ولې په ملتونو کې د یوه نظام او پیوند د تشې په منظور په اروپا کې دوه پدیدې رامنځ ته شوې: <u>لومړی نشنلیزم د مذهبي رابطې د تشې پر ځای</u>

<u>او دوهم دموکراسي د یوه نظام د تشې پر ځای</u>

له همدې خایه دموکراسي او نشنلیزم هغه دوه پدیدې دي چې په اروپا کې د هغو نیمګړیو ټولنیزو اصلاحاتو یا هم د بشري آزادیو او بشري اړیکو په خاطر د ضرورت له مخې ایجاد شول.

نشنلیزم اروپا په بلا او بیا په وروستي تاریخ کې په دوو نړیوالو جګړو ودروله چې په تدریج او د ضرورت له مخې په کې نظامي او سیاسي تړونونه ایجاد شول.

څنګه چې په دواړو نړیوالو جګړو کې د دموکراسی پلوي لوی هیوادونه انګلستان او امریکا فتحه او بری ترلاسه کړ، او مقابل لوري عثماني خلافت او جرمني د ماتې او تجزیې سره مخامخ شول، په طبیعي توګه د دموکراسی د نظام پلویان په کې تر ټولو فاتح وختل او په زیاته نړۍ کې د هغوی دغه نظام مسلط و او په پاتې نړۍ کې یې د تطبیق لپاره ژور تدبیرونه روان دي.

په دې اړه په موقت ډول په روسیه کې د روسي کمونست ګوند واک ترلاسه کړ او په دوهمه نړیواله جګړه کې د شوروي قوي حضور جنګ د روسیې لپاره د دموکراسی په مقابل کې د کمونستي بلاک او انقلاب زمینې برابرې کړې، چې هغه هم د هټلر د نظام په توګه د زور او بې مقدمو مداخلو ښکار او پای په اندونیزیا او افغانستان کې د مداخلو له مخې په یوه نړیواله درګیرۍ اوجګړه کې له پښو ولویدل او داسې نړۍ ټوله د چین په استثنا د پرنګي دموکراسی د فعالیت، تبلیغ او تپلو رجالو ته میدان شوه.

دموکراسي د یو نظام او تهذیب له مخې د هغو غربي لویو سرمایه دارو د تدبیر او طرحو محصول دی چې دوه پیړۍ په غرب کې د قوي کمپنیو په لرلو او قوي نظامونو په اخیستلو د آسیا او افریقا د کم ظرفو نظامونو په چپه کولو او د ملتونو په استثمار هغه نړیوال تسلط ته ځان ورساوه چې نور په آسیا او افریقا دواړو کې د زیاتو هیوادونو مشران او نظامونه دهغوی په خوښه جوړیږي، او هغه چې د همدې پرنګي تدبیر نه بیرون دي، هغوی یا د داخلي جګړو سره مخامخ کوي او یا یې د اقتصادي محاصروسره.

دا چې اروپا ترقي کړې او هلته دشرق د هیوادونو په نسبت نسبي نظام شته ، دا د دموکراسی برکات نه دي،بلکې د هغوی ترقي او چلیدلی نظام د هغوی د هغه شوي چپاول د شتمنیو نه زور اخلي چې هغوی د نړۍ په بلا هیوادونو کې په اتلسمه او نولسمه پیړۍ کې سرته ورساوه، او له هره پلوه یې ځان په نړۍ باندې مسلط کړ، او نن په نړۍ کې د هغوی دغه ظالمانه داسې یو طرفه نظام چلیږي، چې هغوی په کې خپل ځانونه د عدالت او انساني ارزښتونو معیاري حامیان بولي، او نن د بشر د حقوقو په پلمه نه دچا په مذهب باندې بند دي او نه هم د نورو هیوادونو په اجتماعي ارزښتونو.

دا چې غربي نظامونه د شرقي هیوادونو په نسبت خپله برتري لري په دې کې شک نشته ،څکه په شرق کې اصلا دا هر څه د هغوی په لاس کې دي ، چې د هغوی ګټې خوندي کړي،بیا نو په مصر کې د حسن مبارک دجمهوریت نه شاهي نظام جوړوي او چې د هغوی ګټې په کې خوندي نه وي نوبیا د سوډان او نورو دمنتخب جمهوري حکومت لپاره هم دسیسې جوړوي.

د بشر خوړونکو نظام:

په شرق کې تر ټولو مبتذل نظامونه زیات د همدې غربي دموکراسی د پلویانو لخوا حمایه کیږي آن هغه چې د دموکراسی له لارې راشي چې د هغوی په خوښه نه وي نو لکه د سوډان ، ترکیې او الجزایر ورته مشکلات پیدا کوي.

داسې په غرب کې دغه نظامونه له بنیاده د سرمایه داری د نظام په ارزښتونو ولاړ دی ، بیچاره اکثریت ایله پنځه کاله وروسته د رایی ورکولو صندوقونو ته ځي ،ولې نظام هماغسې د زړو لوبغاړو اوسرمایه دارو په منځ کې په نوبت بدلیږي رابدلیږي.

دا نظام په بنیاد کې د هغو بدمستو بشر خوړونکو نظام دی چې د ویټو له لارې بشپړ ملتونه له ستوني تیروي ، افراد ، وګړي او دهغوی مساوي حقوق دا هغه ډرامه ده چې شرقي کم عقله انسانان یې په مظاهرو غولیږي.اسې په دې روانو لسو کلونو کې وینې چې دغه دموکراسي څکه روان مظالم توجیه کوي او هغه حکومت او سړي په تکرار پاتې کیږي چې دا دیرش کاله په افغانستان کې د جنګ په لوبه کې مصروف وو، ولې نن چې د امریکا او غرب ګټې خوندي کوي، امریکا هماغه کسان د دموکراسی په عنوان څومره هنرمندانه په خلکو تپي.

دموکراسي په خپله په غربي هیوادونو کې هم په یو ډیر ژور مرموز ډول د اکثریت د حکومت په عنوان دیو عملي او مقبولې سیاسي طرحې نوم ګټلی دی او نن ډیر هغه هم دموکراسي غواړي چې د اکثریت د نظر او ارمان خلاف په خپلو ملتونو باندې ډالري بولي کوي.

په دې لحاظ چې دموکراسي په غرب کې دسرمایه دارانو په ابتکار وکولای شول چې د پرګنو اکثریتونه په داسې یوه سیاسي سولـه ایزه لوبه کې مصروف کړي چې خلک په کې په دې لحاظ دجګړو پر ځای په همدې لوبه باندې تسل دي.

تاسې په دې روانو لسو کلونو کې وینې چې دغه دموکراسي څکه روان مظالم توجیه کوي او هغه حکومت او سړي په تکرار پاتې کیږي چې دا دیرش کاله په افغانستان کې د جنګ په لوبه کې مصروف وو، ولې نن چې د امریکا او غرب ګټې خوندي کوي، امریکا هماغه کسان د دموکراسی په عنوان څومره هنرمندانه په خلکو تپي.، په دې لحاظ دموکراسي یوه ښه لوبه ده، ولې په دې لحاظ چې هلته غربي سرمایه دارانو د خپلو پرګنو د اعتماد او ملاتړ له لارې خپل نظامونه د هغو ظالمانه استعماري اواستثماري پروژو د عملي کولو په جهت کې استخدام کړې چې شرقي ملتونه په کې دا دوه پیړۍ د تجاوز هدف دی،په دې لحاظ ډیموکراسي دنړۍ تر ټولو بد نظام دی څکه چې هغه

پاتې ۴ مخ

ولې مو اسلام ومانه؟

ژباړه: عبدالله کامه وال

پخواني نوم: لي کوپر * پخواني مذهب: عیسویت

ملک: برتانیه

(ما څنګه اسلام ومنلو؟)

د یو نوي مسلمان شوي نیک بخته تأثرات

دې وايي د اسلام سره زما علایق هغه وخت پیدا شو کله چې ماته د مراکو په ښار کې د یوې انګلیسي کمپنۍ لخوا د مراکش د ملي تلویزیون د کمپیوټر چارې سپارل شوې وې. زما دا کار په ۱۹۹۱ کې پیل شوی وه او د څو میاشتو په موده کې پای ته ورسېده. دا چې زه ولې پدې کار کې مقرر شوم لدې پرته بل څه نه شم ویلی چې دابه زما په تقدیر کې لیکلي شوی و حال دا چې کومو خلکو زما له لاس لاندې کار کاوه په فرانسوي ژبه به یې خبرې کولی هغوی پدې کار کې له ما زیات پوهېدل خو د کار مشري ماته سپارل شوې وه.

زما د سیاحت سره زیاته علاقه وه ما اراده وکړه چې زه باید د مراکش او ددې د خلکو په تهذیب چې څومره کېدلی شي ځان وپوهوم نو دې موخې ته د رسېدو لپاره به زیات وخت د سابلانکایه ښار کې پیاده ګرځېدم او یا به په ریل کې رباط او مراکش ته تلم دا سفرونه زما لپاره ډېر ارزښتمن ثابت شو پدې سفرونو کې زه دداسې خلکو سره مخ کېدم چې دهغوی ښه رویه اوس هم زما په ذهن کې ځای لري.

پدې سفرونو کې مې د افریقې تر ټولو لوی جماعت چې د دوېم شاه حسین په نامه دې ولیده چې دا مهال د جوړېدو په حال کې وه ماسره زما لاړښود ملګری راته وویل چې ددې جماعت په منارو کې د روښنايي لپاره داسې انتظام کېږي چې د ړنا شغلې به یې یواځې د قبلې په لور خورې وي ما به پدې ښار کې تل لیدل چې مسلمانان د اذان وروسته په چټکۍ سره د جماعت په لور په بیړه قدمونه اخلي زه به ددې حالت په لیدو حیران شوم ما غوښتل خپلې دغې حېرانتیا ته ځواب پیدا کړم خو زه نه په فرانسوي ژبه پوهېدم او نه په عربي، ما غوښتل چې پدې پوه شم چې دا خلک ولې مسجد ته ځي او بله دا چې دا له مانځه دمخه د الله اکبر مانا څه ده.

په مراکش کې د وسیدا پر وخت دا سوالونه زما په ذهن کې راولاړ شوې وه خو مخکې لدې چې دې سوالونو ته ځواب پیدا کړم زه له مراکش نه انګلستان ته ولاړم خو دا سوالونه به په انګلستان کې هم زما په ذهن کې تاوېدل خو د اسلام په هکله مې چې په مراکش کې په څه پوهېدل غوښتل هغه سوالونه په انګلستان کې لازیات شو خو داسې څوک مې نه مونده چې د زړه خواله ورسره وکړم په انګلستان کې زما د کور سره نږدې جماعت د ساوت یمپټن په بیروني خوا کې زما له کوره څو میله لرې واقع وه خو حقیقت دا دی چې ما لدې خلکو د مذهب په هکله پوښتنې نه کولې څکه بعضې خلک پداسې سوالونو کولو هم ناراضه کېږي او بله دا چې زما خو هم څه اسلام منلو ته نیت نه وه او نه مې کله ددې سوچ هم کړې وه ما یواځې د خپل ذهن سوالو ته ځوابونه غوښتل.

په ۱۹۹۳ م کال کې مې د ساوت ایمپټن په پوهنتون کې د ماښام په ټولګیو کې ځان شامل کړ زما په نصاب کې د اسلام تاریخ هم شامل وه څو اونۍ وروسته مې په عربي ټولګیو کې هم داخله واخیسته خو د اسلامي تاریخ په صنف کې دوه میاشتې وروسته زما د کم علاقګۍ له لامله یې له ټولګي ووېستم خو زه او ملګری مې پدې کار مایوسه نه شوو څکه هغه سوالونه چې په مراکش کې زما په ذهن کې وه دهغې یو څه ځوابونه مو پدې ټولګۍ کې پیدا کړی وه.

د عربي کورس درې میاشتې روان وه خو باید پدې اعتراف وکړم چې د عربي زده کړه زما لپاره ډېر سخته وه نو د عربي ټولګۍ مې هم پرېښود.

زه چې کله له انګلستانه مراکش ته راتلم نو ما هلته په یو دفتر کې د کار لپاره نوم ثبت کړی وه په ۱۹۹۴ م کال کې د مراکش دې دفتر زما سره اړیکه وکړه او ویې ویل چې د کویت په یوه کمپنۍ کې کار کول غواړې ما له خپلو نوو مالکانو سره چې دا وخت ورسره په کار بوخت وم رابطه وکړه هغوی راته د تګ خوښه راکړه.

د لندن په کېتر هوايي ډګر تر اتېروی وروسته د یو عجیبې پریشاني ښکار شوم او داسې فکر مې وکړ چې ګوندې خپل راتلونکی مې په تېرو کې واچولو زه وویریدم او په سوچ کې شوم چې د لندن په یو ښکلي او پر امن ښار کې مې ژوند تېرولو دا څنګه یو عربي ملک ته د تګ لپاره تیار شوم چې دوه کاله دمخه د جنګ ډګر وه ما فکر کاوه چې ښایي زه به په یوه ډاګه کې په خیمه کې شپې تیروم چې هلته به ماران او لړمان ګرځي راګرځي حال دا چې ما کویت د جنګ پر وخت په تلویزیون کې لیدلې وه خو زما په ذهن کې هغه تصاویر ګرځېدل کوم چې لارنس عربیبا وړاندې کول او هغه ډېر خطرناک مناظر وه. خو فکر کوم چې کویت ته تګ به الله جل جلاله زما په تقدیر کې لیکلې وه.

کویت ته په رسېدو یې زه پلازه هوټل ته بوتلم او په پلازه هوټل کې مې یوه میاشت تېره کړه څکه چې کوم ځای زما د اوسیدو لپاره ټاکل شوی وه پر هغې ځای کار روان وه د مراکش په څېر مې کویت کې هم اوزګار وخت په پیاده ګرځېدو تېراوه او د کویت سخته ګرمي مې هم ددې کار مانع نه شوه.

زه به د اسلامي پریزلیسیشن ټولنه (IPC) دفتر او کتابخانو ته هم تلم دا یوه اسلامي، کلتوري او فرهنګي ټولنه وه خو هلته به مې د اسلام په باره کې له چا پوښتنې نه کولې. څه موده وروسته د کویت په تلویزیون کې یو اسلامي پروګرام پیل شو او دده د اړیکو له شمېرې خبر شوم له دې پروګرام د لیدو له لارې مې د اسلام په هکله زیات معلومات ترلاسه کړه سره ددې چې زما ددې نمبر سره دومره زیاته دلچسپي نه وه خو تر ننه پورې مې هغه نمبر په ذهن کې شته ما به پروګرامونه لیدل او له خپلو ملګرو به مې پدې هکله هم پوښتنې کولې لنډه دا چې په کال ۱۹۹۵ م کې مې پرېکړه وکړه چې باید یو څه اسلامي کتابونه واخلم او مطالعه یې کړم. هیکل کې مې د محمد صلی الله علیه وسلم د ژوند په هکله یو څه ولوستل او دهغه د شخصیت په هکله مې یو څه معلومات ترلاسه کړه خو تر دې دمه مې پدې باور نه وه چې ګوندې خدای جل جلاله ذات شته.

ما چې په کویت کې د کومو خلکو سره کار کاوه هغوی ډېر ریښتوني او ښه خلک وه زه له هغوی هم ډېر متأثر وم خو چې ولې ما دهغوی په خبره باور نه کاوه.

د غرب یو اوسېدونکي چې د حقیقي خدای له ذاته انکاري وي څوک به ورته دا ثبوت ورکړي چې په حقیقت کې خدای شته اوس تاسو اندازه لګولی شي چې زه په یو داسې ټولنه کې لوی شوی یم چې د مذهب په نامه ورته په مکتب کې مذهبي زده کړی

پاتې ۴ مخ

شهادت اوونيزه

خپروونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه

د امتياز څښتن: حزب اسلامي افغانستان

مسؤول مدير: عبدالله کامه وال

مرستيال ل مدير: عبدالخليل (محمد خليل)

داړيکې شمېره: ۰۷۰۸۱۹۸۵۸۲

ديزاين: خواجه وحيدالله

د کنټپلاوي تر څارنې لاندې

آدرس: دحزب اسلامي دفتر سيلو ته مخامخ خوشحال خان مېنه

(ما څنګه اسلام ومنلو؟) د يو نوي...

ورکول کيږي خو عمل پرې نه کوي نه ورته د عبادت موقع په لاس ورځي او نه پوهيږدو پايله يې داسې شي چې څه وايي پر هغې خپله هم باور او ايمان نه لري.

ماته د يو کار پوهه ضرورت وه چې زما مرسته وکړي او په اسلامي ټولنه او فرهنګ ښه بلد وي او هم په اسلام کې ښه مطالعه ولري خو په پيدا کېدو يې بريالی نه شوم پدې وخت کې د اختر يا کرسمس ورځې راورسېدې ما غوښتل چې د کرسمس په رخصتی لندن ته ولاړ شم او نه مې غوښتل چې د رخصتی دا چانس له لاسه ورکړم.

په انګلستان کې مې دا پريکړه وکړه چې د کويته په بيرته ستنېدو به زه له IPC سره اړيکه نيسم څکه چې ماته معلومات وه چې هغوی د کلتور او تمدن په هکله معلومات وړاندې کوي او ددې سره سره چې د عربي زده کړې هم پخه اراده وکړه لنډه دا چې په اول څل مې د ۱۹۹۶ م کال په اواخرو کې آيي پي سي ته يو ليک واستوه، او لومړنی ملاقات مې د نوموړې کميټې د تحقيقي څانګې د مشر عبداللطيف او د کميټې د مشر عبدالوهاب سره وشو، زما خيال دا وه چې دا ښاغلي به د اسلام په هکله څه وايي خو دهغوی نظر دا وه چې اسلام د زور او جبر پلوي دين نه دي موږ نه غواړو خپل خيال او فکر پر تا تحميل کړو موږ غواړو نن ستا پوښتنو ته ځوابونه ووايو، او وګورو چې تا له خانه سره څه راوړي.

خو زما خو نه پر خدای جل جلاله او نه پر عيسی عليه السلام يقين وه نو ما به ورنه څه پوښتني کړی وی د الله جل جلاله په هکله خو ما سره هيڅ معلومات نه وه ما په موټر کې سفر کړی وه نو لړه شبيه غلې کيناستم او فکر مې کاوه چې د اسلامي تاريخ څه راياد شول چې ما په درس کې ويلي ول نو د خبرو پيل وشو، وروسته له څو ناستو مې دا وپوښتل چې آيا د خدای وجود شته ددې سوال په ځواب کې هغوی ماته د مورلس بوکی يوې کتابچه قرآن او نوې ساينس راکړه.

پدې کتابچه کې ما د قرآن کريم څه اقتباسات وليدل چې دهغې په هکله دا يقين کول مشکل وه چې د حضرت عيسی عليه السلام نه شپږ سوه کاله وروسته يو څوک دهغه په هکله، داسې ليکنه څنګه کولای شي، زه يې حيران کړم.

د مثال په توګه د الرحمن د سوره په ۲۳ آيات کې دي چې د پيريانو او انسانانو ډلو که تاسو کولای چې د آسمانونو او ځمکې د کنارو وتختی نو وتختی خو نه شی تختيدی پرته زموږ له امر نه. همدارنګه د انبياء ۲۳ نمبر آيت کې د ځمکې د څرخېدو بيان دی پداسې حال کې چې نړی د ځمکې په مسطح يقين لره.

ترجمه: او الله هغه ذات دی چې هغه شپه ورځ او لمر سپوږمی، او ټول په خپله دايره څرخي ما خپل چاپيريال ته نظر وکړ په څانګړی توګه د اکسيجن په موجوديت باندې چې نه يې ليدلی شو، نه بوی کولی، نه اوريدلی او نه لمس کولی شو خو د ژوند لپاره يې شتون اړين دي نو آيا دا مکان نشته چې خدای جل جلاله موجود وي خو موږ يې د صفاتو د ادراک نه عاجز وشو.

دا وخت زما په ذهن دا سوال هم راپيدا شو چې که چېرې خدای جل جلاله دا نړی نه ده پيدا کړی نو دا چا پيدا کړی. او که چېرې دا نړی د يوې لوی چاودنې په پايله کې منځ ته راغلي نو دا چاودنه چا کړی وه زه دا مهال داسې يوې مرحلې ته رسيدلي وم چې بله هيڅ لاره نه وه پرته لدې چې ووايم ددې دومره لوی نظام لپاره يو تنظيمونکی ضرور شته زه هيڅا هم د الله جل جلاله دا وجود په هکله قانع کړم بلکې خپله قانع شوم چې خدای جل جلاله شته خو چې کوم خدای دی؟

آيا دا خدای عيسی عليه السلام دی او که بل څوک ماته خو د ښوونځی د زده کړې پر وخت هم د بايبل دا وينا چې عيسی عليه السلام خدای دی حقيقت نه ښکاريده.

نو څکه د عيسی عليه السلام په خدايی خو مې هيڅکله ايمان نه درلوده. خو ددې برعکس زما په لاس کې قرآن کريم وه چې ريښتولي يې د نن زمانې د منل شوی ساينس په رڼا کې ثابته ده او پدې قرآن کريم دا ليکل شوي د الله جل جلاله پرته بل څوک د عبادت لايق نشته. او د يو الله عبادت او بندګي وکړی زما هڅې او مطالعې رواني وې او د يو ريښتونی رب لټه مې کوله او قرآن د مطالعې سره سره مې په بايبل کې هم دهغه خايونو لټه وکړه چې په هغه کې لدې ښکاره انکار شوې چې عيسی عليه السلام خدای دی. خو زموږ مذهبي مشرانو زموږ نه پټ کړي وه او زه خو وايم چې عيسايان د انجيل لدې څرګندو ټکو له لوستلو وروسته څنګه عيسی ته خدای ويلای شي چې د عيسايانو په يو معتبر کتاب متي کې په ۱۹ باب آيات نمبر ۱۶-۱۷ کې ليکل شوی دي چې حضرت عيسی عليه السلام وويل ماته آقا ولې وايې آقا خو يواځې يو الله جل جلاله دی.

د عيسايانو په يو بل کتاب يوحنا باب نمبر ۱۵ آيت نمبر ۳۰ کې ليکل شوي: زه به له پلاره غوښتنه وکړم چې تاسو ته د وهم مددګار يعني حضرت محمد صلی الله عليه وسلم وليږي چې تر آخره له تاسو سره وي.

د اسلام منلو پريکړه:

د روژې په مبارکه مياشت کې، په کومه مياشت کې چې په حضرت محمد صلی الله عليه وسلم باندې قرآن کريم نزول شوی وه ما په کويت کې اسلامک پريزليسيشن له ډلې سره خپل ملاقاتو زيات کړه ما به په اونی کې دوه درې څل د شپې پر مهال له دوی سره ليده کاته کول دا مرکز په هغه هوټل کې دی چې کله زه په لومړی څل کويت ته راغلم نو دلته هستوګن شوم لدې پنځه کاله وړاندې ما له اسلام سره دلچسپي پيدا کړی وه چې اخير دې پايلې ته ورسيدم چې بايد پر هغه الله ايمان ولرم چې واحد او لاشريک ذات دي او حضرت عيسی عليه السلام د الله جل جلاله رسول دی او حضرت محمد صلی الله عليه وسلم آخرنی پيغمبر دی له دې پرېکړې وروسته مې د اسلامک پريزليسيشن دفتر په لور حرکت وکړ او ددې کمېټې د کارکوونکو په وړاندې مې د شهاد کلمه وويله، زه پدې کې هيڅ شک نه ګنم چې زما په اسلام راوړلو کې د الله جل جلاله مرسته او لارښوونه وه. زه په کويت کې د اسلامک پريزليسيشن نه هم مننه کوم چې زما لارښوونه يې کړې.

ديموکراسي، د ويټو د پلويانو...

په همدغسې موخه يوازې دغربي سرمايه دار نظام ګټې تامينوي او د نړۍ هر څه يې د هغوی په خدمت کې ورکړي دي.

دا او ديته ورته استنتاج د هغې هڅې حتمي او تکرار پايلې دي چې همدا دموکراسي يې په شرق کې هغه ناکامي مرحلې تکراروي چې په غرب کې د بريې او کاميابې اثرات تنظيمېږي او د دغه نړيوال نظام له برکته مونږ ورځ تر بله په شاتګ کوو او غرب پرمختګ کوي، همداسې او په همدې نرخ بډای او بې وزلې طبقې هم.

د بهرنيانو مداخلې ته چا لاره...

حساسيت لري او هېڅاته اجازه نه ورکوي چې په افغانستان کې دې خپل واک او زور وچلوي، نو لدينه دا حقيقت مخې ته راځي چې مشران بايد د يو مسلمان او افغان په صفت د افغانستان د خلکو حساسيتونه درک کړي او ددې د تحقق لپاره د خپلو تېرو تېروتنو پر ځای نوې سالمه کړنلاره او دريځ خپل کړي. څکه چې زړه کړنلاره غلطه او د افغانانو په تاوان دی، دغې کړنلارې افغانانو له پاره تراوسه له تاوان پرته بل هيڅ مثبتې پايلې نه دي درلودلې.

يواځې يوه کړنلاره کولې شي چې د افغانانو دا اوږد مشکل حل کړي، هغه دا چې ټول جهادي او قومي مشران که هغوی په هېواد کې دننه وي يا دباندې ټول پخپلو کې سره راجرګه شي، د اتفاق او ورورولې په تړغر کيني، يو موقف او يو دريځ خپل کړي. ټول ملت د اتفاق په مزبوطه مزی کې وپېري او يو بل ته د مرستې او همدردې لاسونه ورکړي.

اصلاً د مشرانو اتفاق د کشرانو اتفاق دی او ددوی د ټولو په اتفاق کې د هېواد ګټه مضمره ده، که افغانان يو موټي او يو غږ وي نو هېواد به يې د بهرنيانو له هر ډول تيری څخه محفوظ وي، هغه څه به کېږي چې افغانان يې غواړي، خپلې ګټې به هم پالللی شي او د نورو د ګټو پالنه به هم کولې شي.

همدغه لاره د عزت او استقلال ده بل څوک نه چاته عزت ورکوي او نه هم استقلال، که غواړو چې موږ د عزت او استقلال نعمت ترلاسه کړو نو ددې منطقي لاره همداده چې د مشرانو په شمول ټول افغانان ددې دترلاسه کولو لپاره يو موټي او يو غږ شو، ګډه دريځ ونيسو او ګډې پريکړې وکړو. موږ هر يو د يو الله جل جلاله خالص بنده ګي وکړو او دهغه جل جلاله پر دغه څرګند حکم چې: تاسي ټول د الله په دين منګولې ولګوئ او پخپلو کې له بې اتفاقی څخه ډډه وکړی، کلک عمل وکړو.

پاکستان په سيمه کې د ثبات په...

افغانستان او سيمې د سولې او ثبات په ټينګولو کې خپل رول په سمه توګه ونه لوبوي، نه يوازې داچې افغانستان به له روان ناورين څخه ونه وځي، بلکې پاکستان او سيمه به هم په روان اور کې وسوزي.

نوموړي همدا ډول د مالديو په غونډه کې د افغان دولت د استازو ګډون رد کړ، څينو رسنيو راپوروته خپاره کړه، چې په مالديو کې د حزب اسلامي په مشری د سولې لپاره غونډه جوړه شوې او د افغان ولسمشر د دويم مرستيال استازو، د ولسي جرګې غړو، وسلوالو طالبانو او حقاني ډلې کسانو هم په کې ګډون کړی.

وحيد عمر وويل، چې دغه ډول غونډې هر وخت جوړېږي چې د افغانانو پر ژوند ښه اغېز نه کوي.

"د يوه کنفرانس جوړېدل د يو شمېر خلکو، يا متخصصينو، يا د مدني ټولنو او يا هم د ملي شورا د غړو او داسې نورو کسانو له خوا. داسې کنفرانسونه هم په افغانستان کې او هم معمولاً بهر جوړېږي، خان ته به يو بحث وي او بحث تل ښه وي، خو دا چې د افغانانو پر ژوند دې راساً ډول اغېز ولري، زه ډېره هيله نه څني لرم، چې داسې څه دې شوي وي، نو څکه مو په کې ګډون نه دی کړی."

افغان دولت د سولې د عالي شورا تر جوړېدو وروسته په افغانستان کې د روان جنګ او جنجال د پای ته رسولو لپاره خپلې هڅې ګړندی کړي دي.

افغان دولت او د سولې عالي شورا ويلي، چې په افغانستان کې د سولې راوستلو لپاره د ګاونډيو هيوادونو، سيمې او نړيوالې ټولنې مرسته ډېره مهمه ده.

د سياسي چارو څېړونکې هم په دې باور دي، چې په افغانستان کې د سولې او پخلاينې په خبرو کې د ګاونډيو هيوادونو رول تر ټولو مهم دی.

نقشهء سپردن مسووليت های...

ديده می شوند که در جريان شش ماه، مسووليت های امنيتی در همين مناطق به نيرو های افغان سپرده خواهد شد، اما ګمان می رود که نيرو های ناتو برای دو سال آينده در هلمند و قندهار مستقر باشند.

تعدادی از ديپلومات ها به روزنامه، تايمز ګفته اند، پيترويس نمی خواهد تا اين نقشه در رسانه ها نشر شود، زيرا طالبان شايد اين مناطق را با تهديد روبرو سازد.

به نوشته روزنامه، ديويد پيترويس از طرح خود در اجلاس ليزبون که هدف از آن خروج تدريجی ناتو از افغانستان و آموزش نيرو های افغان است، استفاده خواهد کرد.

در عين حال مقامات ارشد نظامی امريکا نيز ګفته اند که سپردن مسووليت های امنيتی از نيرو های بين المللی به عساکر افغان در سال ۲۰۱۴ ميلادی يک پلان واقعی است.

انتظار می رود رييس جمهور کرزی يک بار ديګر در اجلاس ليزبون روی سپردن همين مسووليت ها به نيرو های افغان تا سال ۲۰۱۴ تاکيد کند.

حامد کرزی از چندی به اين سو روی همين موضوع سخن ګفته است، چنانچه او در ماه جولای امسال ګفته بود:

"ما از پيشرفت های که توسط اردوی ملی افغانستان صورت ګرفته، قدردانی می کنيم. من تصميم دارم که نيرو های امنيتی افغان مسوول عمليات نظامی و تقويت قانون تا سال ۲۰۱۴ ميلادی در سرتاسر کشور باشند."

در مورد اين پلان رييس جمهور کرزی، رابرت ګيتس وزير دفاع امريکا می ګويد، خروج تدريجی از افغانستان روندی است که سال ها وقت را در بر خواهد ګرفت.

به ګفته آقای ګيتس، در صورت تقويت نيرو های افغان، انتقال مسووليت های امنيتی به اين نيرو ها، از امسال آغاز خواهد شد.

خبرګذاری فرانس پريس نوشته که با اين پلان، اميرالبحر مايک مولن لوی درستيز نيرو های امريکايی هم موافق به نظر می رسد. او به خبرنګاران ګفته که با اين جدول زمانی توافق دارد.

مولن هم چنان ګفته که روند آموزش نيرو های افغان با پيشرفت های همراه شده، اما در اين مورد به اقدامات بيشتر نياز است.

در عين حال هيلاری کلنتن وزير خارجهء امريکا ګفته که از پروسهء انتقال مسووليت های امنيتی در افغانستان، خرسند است.

به ګفته خانم کلنتن، امريکا به تعهدات خود در افغانستان ايستاد است و علاوه بر آموزش نيرو های افغان، در چهارچوب نيرو های ناتو برای تامين امنيتی در بسياری ولايات اين کشور مشغول مبارزه است.

لوی څارنوالي په انتخاباتي...

د انتخاباتي درغليو په هکله قانوني څېړنې ترسره کړي.

د همدې له امله لويې څارنوالي د يکشنبې د ورځې پرمانبام د رسنيو له لارې د انتخاباتو خپلواک کميسيون ته خبرداری ورکړ چې، په اته څلويښت ساعتونو کې دې دوي ته اجازه ورکړي چې، د انتخاباتو په بهير کې له تورنو او سرغړونکو څخه تحقيقات وکړي.

په دې هکله د افغانستان د لويي څارنوالي مرستيال رحمت اله نظري ازادی ته په دې اړه داسې وويل:

(اته څلويښت ساعته د دې لپاره دي چې دوي موږ ته تحقيق نه راکوي، قانون وايي څوک چې تحقيق نه ور کوي، بايد دندې وځنډول شي. نن مو د پنځه پنځوس برحال کسانو دوسيې د پارلماني چارو وزارت ته وسپارلې، موږ غواړو د هغو کانديدانو شکايتونه وڅېړو چې موږ ته رسېدلي او د انتخاباتو د کميسيون غړي يې بايد په هکله ځواب ووايي.)

لويه څارنوالي دا هم وايي چې که چېرې، د انتخاباتو د کميسيون له خوا د دوي خبرداری ته مثبت ځواب ونه ويل شي، دوي به يې په هکله قانوني چلند وکړي.

د انتخاباتي شکايتونو کميسيون وايي چې، تر اوسه يې څه باندې څلورسوه هغه دوسيې چې، درغلي په کې په ګوته شوي دي، لويې څارنوالی ته سپارلي دي، خو لويه څارنوالی وايي چې سربيره پردې شکايتونو دوي هم داسې شکايتونه ترلاسه کړي دي چې، د هېواد د اساسي قانون او د دولت د کارکوونکو د قانون له مخې يې څېړنې ضروري دي.

د افغانستان د انتخاباتو کميسيون ويلي دي چې د عقرب د مياشتې په پای کې د انتخاباتو وروستی پايلې اعلان کړي، خو په انتخاباتو کې پاتې راغلي کانديدان او لويه څارنوالی وايي چې دوي تر اوسه د انتخاباتو پر لومړي پايلو هم قناعت نه لري او شفافيت ته يې لا جدي هڅې پکار دي.

اوباما په هند کې پر پاکستان نيوکه...

دننه ترهګرو وژلې دې ښايي په بل هيڅ هيواد کې دومره ملکيان تروريستانو نه وي وژلي.

اوباما د اسلام اباد او کابل اړيکو ته هم اشاره وکړه او ويې ويل چې پاکستان ته پکار دي چې په افغانستان کې په بيا رغاونه کې مرسته وکړي. نوموړي بيا له افغانستان سره د هند د مرستو ستاينه وکړه او ټينګاريې وکړ چې اسلام اباد دې ورته کار وکړي.

افغانستان له سعودي وغوښتل چې...

نهه کلنې جګړې په پای ته رسولو کې مرسته وکړي.

د سعودي عربستان د خبري اژانس ايس پي اې د راپور له مخې د دغه هيواد د باندنيو چارو وزير سعود الفيصل د شنبې په ورځ د ايټاليا له باندنيو چارو وزير سره په يوه خبري غونډه کې وويل: "د سعودي عربستان د منځګړتوب په باب ډېرې خبرې کېږي، خو موږ وروسته له دې چې طالبانو تروريستانو ته پناه ورکړه شرطونه کښېودل."

د سعودي عربستان د بهرنيوچارو وزير همداراز وويل: "زموږ څخه د افغانستان ولسمشربياغوښتنه وکړه چې منځګړتوب وکړو خو موږ وويل ترڅو چې طالبان ښه نيت ونه ښيي او تروريستانو ته له پناه ورکولو لاس وانخلي موږ دا کار نه کوو."

د افغانستان د بهرنيوچارو وزير زلمي رسول پرون په قاهره کې له مصر او ازهر پوهنتونه هم وغوښتل چې په افغانستان کې د سولې په راوستلو کې رول ولوبوي.

زلمي رسول د مصر د عربي جمهوريت او ازهر پوهنتون رول مهم وباله او ويې ويل:

از هر په افغانستان کې ډېر مهم رول لري، موږ له ازهر سره ډېرې نژدې اړيکې لرو او غواړو چې دې اړيکو ته دوام ورکړو.

د افغانستان د بهرنيوچارو وزير پرون په قاهره کې د مصر له بهرنيوچارو وزير سره په يوه خبري غونډه کې ګډون وکړ. په دې خبري کنفرانس کې د مصر د باندنيو چارو وزير احمدابولقيد د دواړو خواوو اړيکې مثبتې وبللې:

دی وايي د دواړو خواوو خبرې مثبتې او ګټورې وې. دا خبرې په دوو ټکو راڅرخېدې. لومړی د دوو هيوادونو د اړيکو په باب چې ښې دي او مصر له افغانستان سره د همکاريو لوی پروګرام لري او بل د افغانستان پر حالاتو او په هغو کې د افغانستان د ګاونډيانو او سترو قدرتونو په رول.

ټاکل شوې ده چې د افغانستان د بهرنيوچارو وزير نن د مصر له ولسمشرحسني مبارک سره ووينې.

زلمي رسول به ،چې له مصري چارواکو سره يې دوې موافقې هم لاسليک کړې ، د عربي اتحاديې له مشر عمرموسی سره هم وګوري.

امريکا په اسيا کې نظامي شتون...

چين د روان کال په لومړيو کې يوه نقشه خپره کړي، چې په کې دغه هېواد د جنوبي چين سمندري سيمې خپلې ښوولې وې.

ګېټس زياته کړه، چې دا يوازې له چين سره نه بلکې له ټاپې ټولې اسيا سره د دوی د اړيکو خبره ده.

د امريکا د دفاع وزارت يوه پخوانې چارواکې رسنيو ته ويلي وو، پنټاګون غواړي، چې امريکايي پوځيان نه يوازې په لرې ختيځ بلکې په جنوب ختيزې اسيا او هند سمندر هم څار ولري.

په دې غونډه کې د استراليا صدراعظم جوليا ګلارډ ويلي، چې هرڅوک تمه لري، چې چين په سيمه ييزې مرستې کې مهم رول تر سره کړي.

بله خوا د استراليا د دفاع وزير سټيون سمت ويلي، چې دوی له چين سره ښکاره او په څانګړي توګه په خبرو کې دا موضوع روښانه کړي، چې هغه هېواد بايد خپلې پوځي هڅې په شفاف او روښانه ډول ترسره کړي.

د يادونې وړ ده، چې د امريکا د بهرنيو چارو وزيره هيلري کلېټن هم د استراليا په سفر بوخته ده.